آصف بهاند

۲۰۲۱/۱۲/۱۹

# د مـــروري خـــولـــې خـنـدا غواړمه

د مـــروري خـــولـــې خـنـدا غواړمه
لــه کلي تللي خـوښـي بیا غواړمه

کـلـه بـه ورکې شـي د جـهـل تـیارې
د خـواری مزد پـه نـن سبـا غـواړمه

زمــانـــې څــه راسـره وکـړل ګـوره
زه يـې بــدل پــه دې دونـیـا غـواړمه

نــن د بــاروتـو بــوی تـول بـڼ نیولی
سـا ایـستی نـه شـمـه هـوا غـواړمــه

زوړ دود او زوړ زمان نه ستړی یمه
زه نــوی دور پــه ریـښـتـیـا غـواړمه

ډېــر دي پـه تـنـګو نـظـرونو کې ګیر
ورسـره سـتـړی یـم، صحرا غـواړمه

۲۰۲۱/۰۸/۱۰
هېدرسلیف
ډنمارک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ